پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۹/۱۲/۰۷

# د محمد گل خان مومند

# د فرهنگي ـ ادبي هڅو یو لنډ جاج



(زوکړه ۱۲٦۳ ل ل - مړینه ۱۳۴۳ ل ل)

**د جرمني په کولن ښار کې، د «کونر کلتوري ټولنه» په نامه د افغانانو یو فرهنگي مرکز توانېدلی دی چې د ۲۰۱۹ کال د دسمبر په اومه نېټه، د یو شمېر افغان پوهانو، څېړونکو او نورو فرهنگیانو په گډون د «محمد گل خان مومند ژوند ـ ژواک ـ اندونه» تر نامه لاندې یو علمي سیمینار جوړ کړي. د نورو څېړونکو او پوهانو تر څنگ له ما نه هم هیله شوې وه چې د محمد گل خان مومند د فرهنگي ـ ادبي کارونو په باب څه ولیکم. دا مقاله د دې علمي سیمینار له پاره لیکل شوې ده.**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ما (آصف بهاند) د لومړي ځل له پاره په ۱۳۵۵ ام کال کې کله چې د کابل پوهنتون د لومړي کال محصل وم د محمد ګل خان مومند نوم د خپلو استادانو له خولې واورېده. کله چې استاد پر تخته باندې د ډېرو مالوماتو د ترلاسه کولو له پاره د مأخذونو نومونه ولیکل، یو په کې د استاد بېنوا «اوسني لیکوال» و. د کابل پوهنتون له کتابتونه ځخه مې یاد کتاب تر لاسه کړ، هلته مې د محمد ګل خان مومند راغلي بیوګرافي ولوستله.

په لومړي سر کې زه ورته حیران وم چې یو سړی او څو مهم کارونه؛ هم سیاست، هم اداره، هم اقتصاد، هم ادبي فعالیت، هم ژورنالیزم، هم د بهرنیو ژبو زدکړه (روسي، ترکي، اوسني لیکوال، ۱۰۷۸ مخ)، څومره وخت، څومره انرژي، څومره استعداد او څومره حوصله.

په اوسني لیکوال کې د افغانستان نومیالی فرهنګي شخصیت استاد عبدالرؤف بېنوا، د محمد ګل خان مومند د ژوند او ادبي ـ فرهنګي هڅو په باب د خپلو لاسلرلو مالوماتو له مخې چې کومه لیکنه کړې ده، څو اړین ټکي یې دا دي:

«... ښاغلی محمد ګل خان مومند د اوسنیو پښتنو له نامتو شخصیتونو ځخه و، چې په خپل وار او په خپل وخت کې یې د پښتـو ژبې له پاره د ستاینې وړ قلمي او نظري خدمتونه کړي دي، چې د پښتـو ژبې په تاریخ کې به په زرین خط ثبت پاتې وي...»

(بېنوا عبدالرؤف، اوسني لیکوال، بشپړ متن، ترتیب او زیاتوني: مطیع الله روهیال، علامه رشاد خپرندویه ټولنه، کندهار، ۲۰۰۹ ام ع کال، ص ۱۰۷۷ ام مخ)

بېنوا د محمد ګل خان مومند په باب د خپلو خبرو په ترڅ کې وایي چې ده د رسمي دندو په لړ کې د تنظیمیه رئیس، د کورنیو چارو وزیر او د دولت وزیر په توګه دندې ترسره کړېدي، خو په «اوسني لیکوال» کې «... دی د رئیس یا وزیر په توګه نه معرفي کوو، بلکې ده ته د پښتو او پښتونولۍ د یوه لیوال مشر او مبتکر لیکوال په نظر ګورو.»

(تېر اثر، تېر مخ)

د محمد ګل خان مومند شخصیت څو اړخونه لري چې زه په دې لنډه مقاله کې یوازې د ده پر فرهنګي ـ ادبي اړخ خبرې کوم.

مومند صاحب لکه زموږ د نورو تېرو فرهنګي شخصیتونو په څېر په څو برخو کې د کارنامو خاوند و. سیاست، اداره، نظامي برخه، اقتصاد او د دې تولو تر ځنګ ژبه، ادبیات او ژورنالیزم هم ورنه هېر نه وو او له دې سره ـ سره یې یو شمېر نور ټولنیز فعالیتونه هم کړي دي چې په ځانګړي ډول د ځینو ټولنیزو او فرهنګي ټولنو جوړول په کې د پاملرنې وړ دي.

محمد ګل خان مومند په شعر او نثر دواړو برخو کې قلم چلولی دی، چې په دواړو برخو کې د ملي روحیې رنګ غالب دی.

محمد ګل خان مومند پښتـو ژبې ته د خپلو خدمتونو په لړ کې د ۱۳۱۱ ام هـ کال په لړم میاشت کې په کندهار کې «پښتو ادبي انجمن» تاسیس کړ چې د «پښتو» په نامه یې یو مجله هم خپروله. استاد بېنوا د محمد ګل خان مومند د دې خدمت یادونه داسې کړېده:

«د پښتو ژبې د خدمت په لاره کې د مرحوم مومند یو بل مهم اقدام دا و، چې په ۱۳۱۱هـ ش کال یې د قوس پر نهمه د اعلیحضرت محمد نادر شاه شهید په لارښوونه په کندهار کې د پښتو ادبي انجمن تأسیس کړ، چې هغه انجمن د پښتو ژبې پر نور خدمت سربېره د پښتـو په نامه یوه مجله هم خپروله خو په پای کې هغه انجمن کابل ته راغی او د کابل د ادبي انجمن سره ګډ او پښتو مجله هم د کابل مجلې سره یو ځای شوه.»

(اوسني لیکوال، بشپړ متن، ۱۰۷۷ـ ۱۰۷۸ مخونه)

د محمد ګل خان مومند په باب په ټولو لیکل شو اثار او مقالو کې څېړونکي په دې باب په یوه خوله دي چې دی د پښتو ژبې د سوچه والي پلوي و. بیا هم استاد بېنوا وایي:

«مرحوم مومند په پښتو لیکلو او ویلو کې د سوچه والي کلک طرفدار و... دغه شان دی د متحد سبک او ادبي وحدت ملګری و، ده به ویل چې په لوستلو کې هر سړی آزاد دی، خو په لیکلو کې باید هېڅ توپیر نه وي.»

(اوسني لیکوال، بشپړ متن، ۱۰۷۸ ام مخ)

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځېر و لولـئ

مومند صاحب په شعر کې هم خپله قریحه ازمیلې ده، خو انځور جوړونه او تخیل یې ضعیف دی. تر اوسه پورې د مومند صاحب پر تخلیقي برخې باندې څېړنه نه ده شوې.

د مومند صاحب پر آثارو او ترسره کړو کارونو باندې دومره چې باید، کار نه دی شوي. زما د مطالعې او معلوماتو له مخې څو ګوتې په شمار څېړونکو د ده باب یو څه لیکنې او یادونې کړې دي چې دلته یې د ځینو نومونه اخلم:

۱ ــ استاد بېنوا په اوسني لیکوال کې چې ما یې د همدې مقالې په ترڅ کې څو ځایه لیکنې را اخیستې دي،

۲ ــ د استاد حبیب الله رفیع ځینې مقالې او کتابونه چې د دې مقالې د لیکلو په وخت کې زما په واک کې نه شته،

۳ ــ ښاغلی اسمعیل یون چې د «د محمد ګل خان مومند اندو ژوند ته یوه لنډه کتنه» تر سرلیک لاندې یې د لیسانس دورې مونوګراف ورته وقف او لیکلی،

۴ ــ استاد سعدالدین شپون په «و، نه و، یو شپون و» د خپلو یادداشتونو په ترڅ کې څو ځایه د محمد ګل خان مومند یادونه کړې ده چې ځینې برخې یې په همدې مقاله کې ما را اخیستې دي،

۵ ــ د اکادیمیسین کاندید استاد صدیق روهي په «د پښتو ادبیاتو تاریخ، دویم ټوک» کې په دوو ځایونو کې د محمد ګل خان مومند یادونه کړېده:

**الف ــ د پښتو د معاصر ادب د ویښتیا د پړاو په شاعرانو کې، (۹۰ ام مخ)،**

**ب ــ د پښتو د معاصر ادب د ویښتیا د پړاو په ژبپوهانو کې، (۹۲ ام مخ)**

**(روهي، د اکادیمیسین کاندید سرمحقق محمد صدیق، دانش خپرندویه ټولنه، دویم چاپ، ۱۹۹۹م کال)**

لکه څنګه چې پاس یاده شوه چې ښاغلي یون یو بشپړ کتاب (د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه) د مومند صاحب د ژوند او کارنامو له پاره وقف کړی دی، یون صاحب د محمد ګل خان مومند د ژوند په ټولو برخو یا لږ یا ډېره رڼا اچولې ده، زه له نورو برخو سره کار نه لرم، یوازې به یې په فرهنګي برخه لږ تم شم. یون صاحب د خپل لیکلي کتاب په پیل کې وایي:

«دا کتابګوټی ما پر ۱۳۷۰ل کال د خپلې لیسانس دورې د مونوګراف په توګه لیکلی دی او پر ۱۳۷۳ل کال مې په پېښور کې چاپ کړی دی. دا اثر که څه هم یوه ډېره کوچنۍ لیکنه ده، خو هغه وخت هم زما هدف دا و چې وزیر صیب ته د نورو لیکوالو، کلتوري او علمي ټولنو پام راواوړي...»

(یون، محمد اسمعیل، د محمد ګل خان مومند اندو ژوند ته یوه لنډه کتنه، یون کلتوري ټولنه، ۱۳۸۷، ۳ ــ ۴ مخونه)

د غه راز یون صاحب د محمد ګل خان مومند د فرهنګي کارونو په باب د خپل بحث په اوږدو کې خپلې خبرې داسې غځوي:

د دې ترڅنګ زموږ، لیکوالو او علمي ټولنو ته په کار دي چې د وزیر صیب د اند و ژوند پر بېلابېلو اړخونو څېړنه وکړي او د هغه له اند دود څخه د اوسني او راتلونکي نسل د روزنې لپاره د روښانه مثالونو په توګه ګټه واخلي...

وزیر صیب نه یوازې د هېواد سیاسي ژوند ته متوجه و، بلکې اقتصادي او فرهنګي مسایلو ته یې هم ځانګړې پاملرنه لرله. هغه پښتانه د ښاري کېدنې او نوي اقتصادي سیستم له جوړښت سره اشنا کړل او هم یې د فرهنګ دروازې ورته خلاصې کړې او د یوه مخکښ فرهنګي جریان پر، روزلو یې پیل وکړ، پښتنو ته یې دا حق حاصل کړ چې په خپل هېواد کې په خپله ژبه لیك او لوست، وکړي خو د پښتنو د دومره لوی خدمتګار له دومره سترو ویاړنو او خدمتونو سره سره تر اوسه پورې د هېواد په خېړونکې د هغه په باب ډېر هغه څه چې لازم وو، چا نه دي لیکلي.

(یون، محمد اسمعیل، د محمد ګل خان مومند اندو ژوند ته یوه لنډه کتنه، یون کلتوري ټولنه، ۱۳۸۷، ۵ ــ ۷ مخونه)

یون په خپل کتاب (د محمد ګل خان مومند اندو ژوند ته یوه لنډه کتنه) کې د مومند صاحب د فرهنګي هڅو یادونه په دې ډول کوي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

الف - په ژورنالیستیکه او خپرنۍ برخه کې،

ب - د ادبي ټولنو په جوړونه کې،

ج - د روزنې او پالنې په برخه کې،

د - د ژبې په دفتري کولو او رسمي کولو کې.

(یون، محمد اسمعیل، د محمد گل خـان مومنـد اندو ژوند ته یوه لنډه کتنه، یون کلتوري ټولنه، ۱۳۸۷، ۱۳ ـ ۱۶ مخونه)

د محمد گل خان مومند د فرهنگي ادبي کارونه د هرې برخې ارزونه که وشي، له پیل نه تر نن پورې یې پایلې زموږ په ټولنه کې محسوسې او خورا مثبتې ارزول کېږي.

محمد گل خان مومند د خپل وخت غوښتنو او پوښتنو ته په پام سره د ژونالیـزم قوت او رول ته پام کړی و او د همدې ارتیا له مخې یې په شعوري ډول هڅې کولې چې داسې خپروني رامنځ ته کړي چې د خلکو او ټولنې په ویښتیا او د ژبې په غنا کې په بشپړه توگه مرسته وکړي.

مومند صاحب د دریو مهمو خپرونو په چلولو او سمبالښت کې رول درلود:

**۱ ـ عسکري مجله،**

**۲ ـ طلوع افغان اخبار،**

**۳ ـ پښتو مجله.**

محمد گل خان مومند په ۱۳۰۰ هجري لمریز کال د مجموعه عسکري د مجلې مدیریت هم کړی، چې د دفاع وزارت لخوا خپرېده.

بناغلي اسماعیل یون د ده پر ژورنالیزم داسې رڼا اچولې ده:

په کندهار کې پښتو ژبه باندې د طلوع افغان خپرول،

پښتو مجله چې په کندهار کې یې د «پښتو ادبي انجمن» له لوري خپروله.

محمد گل خان مومند د خپلو فرهنگي هڅو په لړ کې وتوانید چې په کندهار کې او لویه او موثره ادبي ټولنه جوړه کړي چې نوم یې ورته «پښتوادبي انجمن» کېښود.

همدا رنگـه محمد گل خان مومنـــد د پښتو ژبې او ادب د لاغوړېـدنې لپـاره په بېلابېلـو وختونـو کـې بېلابېلـې ادبـي مسـابقې او کانکورونه جـوړول.

(یون، محمد اسمعیل، د محمد گل خـان مومنـد اندو ژوند ته یوه لنډه کتنه، یون کلتوري ټولنه، ۱۳۸۷،۱۵مخ)

## د محمد گل خان مومند په قلم لیکل شوي آثار:

محمد گل خان مومند د خپلو فرهنگي هڅو په لړ کې گڼشمیر آثار او مقالې هم لیکلي دي چې ځینې چاپ او خپاره شوي دی او ځینې یې لا نا چاپ پاتې دي.

د محمد گل خان مومند د آثارو په باب په دوو مأخذونو کې د لومړي لاس مواد زما له نظره تېر شوي دي:

۱ ـ د استاد بېنوا په «اوسني لیکوال» کې د مومند د پنځو کتابونو نومونه یاد کړي دي.

۲ ـ د اسماعیل یون په «د محمد گل خان مومنـد اندو ژوند ته یوه لنډه کتنه» کې بیا د اوو کتابونو او څو مقالو یادونه شوې ده.

دلته زه د اوسنیو مالوماتو پر اساس د هر اثر په باب په جلا ډول خبرې کوم:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## ۱ ـ پښتو سیند:




محمد گل خان مومند په ۱۳۱۶ هـ کال د پښتو ویونو (لغاتو) یو لوی قاموس برابر کړ او نوم یې ورته «پښتو سیند» کېښود. په خپله خوښه یې یوه مقدمه ورته ولیکله، چاپ او خپور یې کړ. د مومند صاحب د دې کتاب په باب په انسایکلوپیدیا کې د رازمحمد ویښ په حواله داسې مالومات وړاندې شوی دی:

«قاموس افغاني یا پښتو سیند د یو ستر لغوي کتاب دی چې لومړی ځل په ۱۳۱۶ ل. کې د پوهنې وزارت په امر د کابل په عمومي مطبعه کې په لویه کچه چاپ شوی دی. دا سیند د محمد گل خان مومند په قلم لیکل شوی. د دې کتاب موضوع د پښتو رسم الخط ښودلو او پښتو لغاتو پرتله کولو په باب مردف بحث لري، په دې کتاب کې د پښتو ابېڅې، تهجي توري رموز او اشاراتو د پاره قاعدې پرانیستل شوي دي چې د پښتو قاموس لومړنۍ مسوده او د پښتو لغاتو د راټولولو او چاپولو په لار کې لومړنی اثر دی چې په افغانستان کې چاپ شوی. همدا ډول دا کتاب د پښتو ژبې د علمي هڅې لومړنۍ زېرمه او د پښتو ژبې د لغوي آثارو لومړنی پوړ دی.»

ویل کېږي چې مومند صاحب د دې قاموس په لیکلو باندې ډېر وخت لګولی دی او ډېری لغتونه یې د خلکو له خولې اورېدلي او لیکلي یې دي:

«د مومند زیاته بوختیا د لغتونو په څېړنه او پلټنه کې وه. تل به یې له کلیوالو پښتنو څخه د نااشنا لغاتو پوښتنې کولې، تل به قلم او کاغذ ورسره وو چې نوی لغت به یې واورېدی نو هغه به یې ولیکئ، ګډه وډه او ناوړه پښتو یې نه خوښېده. چا چې به له پښتو سره بې پروایي کوله هغه یې ښه نه اېسیدی، د لغاتو په جوړولو کې یې پوره ملکه در لوده او ډېر نوي لغات یې جوړ کړي دي چې اوس بیخي دود شوي دي. لکه خج = د فشار اواز، د ژبې لیار و قانون، وتوځی، مخرج، ننوتوځی، ایره نی، (خاکستر دانی)، خو ځینې نور یې لا تر اوسه دومره دود شوي نه دي، لکه اڅل = ګیلاس، هڅوب = کلچر»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

## ۲ ـ د پښتو ژبې لیاره:

محمد گل خان مومند له «پښتو سيند» نه وروسته، پښتو گرامر ته ملا وتړله او «د پښتو ژبې لياره» په نامه يې د گرامر په برخه کې يو کتاب وليکه چې استاد عبدالرؤف بېنوا په خپل «اوسني ليکوال» کې «د پښتو د قواعدو او گرامر يو گټور کتاب» په نامه پېژندلی دی چې په لاهور کې چاپ شوی دی. (اوسني ليکوال، بشپړ متن، ۱۰۷۷ ام مخ)

يون صاحب د دې اثر په باب داسې ليکلي دي:

پښتو گرامر په برخه کې د محمد گل خان مومند ډېر مهم اثر دی چې پر ۱۳۱۷کال د ساپي عبدالعظيم په اهتمام او ليك باندې په لاهور کې چاپ شوی دی، له سريزې پرته ۴۹۵ مخونه لري...»

(د محمد گل خان مومند اندو ژوند ته یوه لنده کتنه،۳۵مخ)

## ۳ ـ لنډکی پښتو:

مومند صاحب په دې اثر کې خپل هغه نظريات چې د پښتو او پښتونولی په باب يې درلودل ليکلي دي. بېنوا صاحب ويلي دي چې ده د مومند صاحب دا اثر په ۱۳۲۷ ام هـ کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپور کړی دی. بېنوا صاحب د محمد گل خان مومند د دې اثر په باب خپلې خبرې داسې غځولې دي:

«دا د مرحوم مومند يوه وړوکې رساله ده چې په ۱۳۲۷ هـ کال يې زما د هغې گيلې په جواب کې ليکلې وه، چې ما د کابل په مجله کې له پښتنو مشرانو څخه د پښتو ژبې د خدمت په لاره کې کړې وه...»
(اوسني ليکوال، بشپړ متن، ۱۰۸۰ ام مخ)

که د نورو خلکو له هر ډول تبصرو تېر شو، د نوي عصر د نظرياتو په رڼا کې ويلای شو چې په «لنډکی پښتو» کې ټول راغلي نظريات په محمد گل خان مومند پورې اړه لري. دا لاندې د پښتو په باب د ده د نظرياتو ځو بېلگې دي چې ده له ښکلو ادبي تشبيهاتو او استعارو سره بيان کړي دي او د ده د فکر او قلم زېرندنه غوره ادبي بېلگې يې گڼلای شو:«

- پښتو خورا خوږه وروري ده،
- پښتو صله رحمي ده،
- پښتو شفقت دی،
- پښتو مهرباني ده،
- پښتو ښېگڼه ده،
- پښتو د پښتنو معنويت دی،
- پښتو انسانيت ته خدمت دی،
- پښتو کار کول دي،
- پښتو هاند او کوشش دی،
- پښتو صداقت دی،
- پښتو پر خان باور دی،
- علم په پښتو زده کېږي،
- جهل په پښتو ورکېږي...»

(اوسني ليکوال، بشپړ متن، ۱۰۸۲ ـ ۱۰۸۷مخونه)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

**۴ ـ روزنه،**

**۵ ـ پخلی،**

**۶- پښتني تربيه:**

د دې اثر په باب ښاغلی اسمعيل يون يادونه کوي چې:

«پښتني تربيه هم د وزير صيب محمد ګل خان مومند يو بل، اثر بلل شوی د اصلاح ورځپاڼي ۱۳۴۳ کال د اسد مياشتي د اته ويشتمي نېټي په ګڼه کې يې يادونه شوې، خو په تفصيل يې پرې څه نه دي ليکلي.»

(د محمد ګل خان مومند ژوند او اند ته يوه لنډه کتنه، ۴۲ مخ)

**۷ ـ پخواني ملي او ادبي اصطلاحات:**

د اصلاح ورځ پاڼي د ۱۳۴۳ ام کال د اسد مياشتي د اته ويشتمي نېټي د ګڼي له مخې د محمد ګل خان يو بل اثر دی چي چاپ شوی نه دی...»

(تېر اثر، تېر مخ)

دغه راز په پښتو انسايکلوپيديا کې هم د محمد ګل خان مومند د اوو آثارو نومونه ياد شوي دي، په دې ډول:

**۱ ـ پښتو سيند (پښتو قاموس)،**

**۲ ـ د پښتو ژبې ليار (پښتو صرف او نحوه)،**

**۳ ـ لنډکی پښتو (د نظرياتو مجموعه)،**

**۴ ـ پښتني روزنه (تعليم او تربيه)،**

**۵ ـ پښتو او پښتونواله (پښتني فرهنګ)،**

**۶ ـ د پښتو لويه نحوه (معاني او بيان)،**

**۷ ـ د پخلي دولونه (د پخلي ښوونه).**

له محمد ګل خان مومند نه د راپاتي ليکنو په ډله کې د ځينو لنډو ليکنو يادونه هم شوې ده. محمد اسماعيل يون د مومند د دې لنډو ليکنو په باب د خپل کتاب په يوه برخه کې وايي چې:

«دغه راز د وزير صيب محمد ګل خان مومند دوه ليکني چې، د ده په خپل لاس کښل شوي د هېواد له نوميالي محقق حبيب الله رفيع سره موجودي دي چي تر اوسه چاپ شوي نه دي.»

(د محمد ګل خان مومند ژوند او اند ته يوه لنډه کتنه، ۴۳ مخ)

دغه راز يون صاحب په خپل پاسني ياد اثر کې د دغو ليکنو نومونه هم ياد کړي دي:

ـ سيمه، د پښتنو د هېواد او خصوصاً د ګډ هېواد ساتني او ګډ مدافعيت په اړه مطالب لري.

ـ ميلمستوب، ميلمستيا او بلنه ده، په ميلمستياعمومي بحث او دا چي پښتانه په ميلمستيا کې ډېر بياوړي دي خصوصي بحث کوي.

ـ توکي، په دې مضمون کي توکي په جايزو او ناجايزو برخو وېشي، جايزې له اسلامي او پښتني ادابو مخالفي نه بولي او ناجايزې له دواړو سره مخالفي ګڼي.

(د محمد ګل خان مومند ژوند او اند ته يوه لنډه کتنه، ۴۴ مخ)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د محمد گل خان مومند د ژوند او کارنامو په برخه کې ښايي ډېر خلک رنګارنګ خاطرې ولري چې ځينې به يې منفي اړخ ولري لکه د غبار تاريخ دويم ټوک (غبار مير غلام محمد، افغانستان در مسير تاريخ، جلد دوم، ناشر: انتشارات جمهوري، ويرجينيا ـ امريکا، ۱۹۹۹، ص ص ۷۱ ـ ۸۰) او ځيني خلک به ډېرې مثبتې او خوږې خاطرې هم ولري چې د سيمينار نور درانه ګډون کونکي به د خپلو علمي مقالو په ترڅ کې خبرې پرې وکړي؛ خو زه به د خپلې مقالې د لا ښه پای له پاره، د محمد گل خان مومند په باره کې د پښتو ژبې د يوه مطرح او پياوړي ليکوال استاد سعدالدين شپون څو لنډې خاطرې دلته راوړم چې ده د خپل پلار او مشر ورور له خولې اورېدلې دي او ده په خپله هم محمد گل خان مومند له نږدې ليدلی دی:

د شپون صاحب په ليکلې بيوگرافی کې چې هيڅ ډول مأخذ ته اړتيا نه لري او ټول ليکلې شيان يې د خپلو سترگو ليدلی حال دی؛ د افغانستان د دريو لويو هستيو (عبدالهادي داوي، محمد گل خان مومند او شېر خان) مقايسه، شپون صاحب د خپل پلار او مشر وررور له خولې په داسې عجيب هنرمندانه ډول ليکلې چې سړی حيرانوي. د محمد گل خان مومند په باب د شپون صاحب بيان داسې دی:

«کالونه، کالونه پس، په ۱۹۷۳ کې چې داوود خان دويم ځل راغی، د پوهنې وزارت په سالون کې ناروېژي بې مثاله ژبپوهاند، مارگنشترنه، روسي ژبپوهاند دوورياناکف او محمد گل مومند ته د پښتو ټولنې افتخاري غړيتوب د ورکولو په مجلس کې داوي هم بلل شوی و. عبدالرؤف بېنوا او ارسلان سليمي له داوي سره وو. وزير صيب (مومند) يو څه ناوخته راورسېد، ټول ورته ودرېدو، بې له داوي نه چې همداسې نېغ ناست و...
محمد گل مومند او داوي دواړه پښتانه، منور، مغرور، مشروطه غوښتونکي وو، خو داوي د اتاتورک په شان يو څه افراطي او لبرال و او مومند عنعنوي، په اسلام او پښتونولۍ ولاړ او د نادر خان طرفدار و...

زما په خيال داوي په دې هم ځان تر مومنده بر گڼه چې د ده په وينا څوارلس کاله يې سياسي بند تېر کړی. دا هماغه شخصيت دی چې د امان الله خان په وخت کې ايتاليه کې سفير و، خو چې سقاو راغی نو بې لنډه استعفا نامه وليکله:

«ما را مستعفی بدانيد.»

حال دا چې مومند ته نادر خان پنځم وررور ويلي وو. د پوهنتون په کالونو کې مې د وزير صاحب مومند زيارت څو ـ څو ځلې کړی دی، اول د دهمزنگ په کور کې او وروسته په گذرگاه کې. په يو ځل د کلاوس فرديناند ډنمارکي کوچي پېژندونکي سره د ترجمان په حيث د ده کور ته لاړم.

د دې ملاقات يو ټکی مې په ياد دی. کلاوس ورنه پوښتنه وکړه، چې د کوچيانو په ميله ځای کې انگور کېږي؟

چې ما ورته ترجمه کړ، نو وزير صاحب وويل:«بچيه انگور مه وايه، کور وايه.»

پلار مې د مومند صيب سره د هغه وخت نه پېژندل چې هغه د قطغن او بدخشان د تنظيمي رئيس و. پلار مې ويل چې وزير صيب يو څه زياتی کوي، ما چې ورته د دوکان په باب څه ويل، نو هغه ويل: دوکان مه وايه، هټی وايه. ما اعتراض وکړ، چې هټۍ هم هندي توری دی.

مگر پلار مې د وزير صيب د تدبير، عدالت او وطنپرستۍ ډېر صيبت کاوه او چې ما پوښتنه ترې وکړه، چې مومند صيب د شير خان سره چې وروسته نايب الحکومه شو، څنگه مقايسه کوي، نو پلار مې وويل چې دواړه د پښتنو خدمتگاران وو.

منشي ققسي چې د نادرخان په راتگ ببرته د ولايت په منشي گيرت ټاکل شوی و، زما د همدې پوښتنې په ځواب کې په تمسخر وويل: غر د مچ د وزر سره مقايسه کول نه دي سم.

گهيځ لالا مي بيا بل قسم حکم کاوه. هغه ويل، چې داوي د افغاني منورانو د شعور مخکښ و، مومند بيا همدا شعور پښتنو ته ورکړ او شيرخان  له پښتنو نه وژونکي وسله واخيسته، لور او يوم يې ورکړ، تربگنې يې ترې واخيسته، علم او پوهه ـ مکتب ـ سړکونه ـ فابريکې يې ورکړې؛ نو دا درې واړه د يوې باغچې گلان دي.»

شپون سعدالدين، و نه و، يو شپون و، دانش خپرندويه ټولنه، ۲۰۰۵ ام ميلادي کال، ۵۶ ــ ۶۰ مخونه)

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ